# د پير جهانزېب د افسانې فني او موضوعاتي جاج

# The Subjective and Artistic Survey of Pir Jehanzeb,s Fiction

Dr Badshah e Room(Ali khel Daryab) *
Shahbaz Mohammad**

**Abstract:**

Pir Jahan Zeb (Late) was an educated and an experienced person in different ways of life. He looked life from its inner side. What he saw saved in his mind and converted it into the shape of short stories. His short stories covered a decade of mass life. He opened the masses compulsions and the attitude of the people towards them.

**Key Words:** short stories, mass life, compulsions, attitude

کله چې د انسانانو مصروفيات زيات شو او بنيادم د ژوند په ډېرو شيانو کښې د اختصار نه کار اخيستل شروع کړۀ نو د ادب په ميدان کښې د داستان نه ناول او بيا د ناول نه افسانه وزېږېده.

"د افسانې د ابتداء څۀ خاص وخت يا ځائے ځائيګے نه دے معلوم خو په لړه لړه وقفه په څلورو مختلفو ملکونو کښې د افسانوی ادب د څنو سترو او مشهورو ليکوالو سر راواولګيدو"[۱]

د دنيا په بېلا بېلو سيمو کښې افسانه د خپل ارتقائي عمل نه تېره شوه. په يورپ کښې د نولسمې صدۍ په وړمبۍ نيمايۍ کښې ئې ترقي وکړه[۲]

او چې پښتو ته رارسېده نو د شپېتو کلونو نه پرې زيات اوړيدلي وو. وئيلے شي چې دغه کال ۱۹۲۷ء وو[۳].

د افسانې د اختصار او جامعيت په وجه نه صرف ليکوالو دې پله توجه وکړه، عوامو هم خوښه کړه. د پښتو افسانې وړومبۍ باقاعده چاپ ټولګه زمونږ سره د نادر خان بزمي پلوشې ده[۴].

---

* Chairman Department of Pashto Malakand University Chakdara
** M.Phil Scholar Malakand University Chakdara

د ملاکنډ په سیمه چې په کال ۱۹۵۲ء کښې محمد نواز طائرد افسانې لیکلو وړومبۍ تجربه کوله[۵].

نو تر دغه وخته پښتو افسانه د څو پړاؤ نونه تېره شوې وه. او دا به ووایو چې د پښتنولیکوالو په زیار افسانه پښتنه شوې وه. دغه شان ورو ورو د پښتو افسانې د وخت سره سره اړخونه بدلول او اوس خو ئې حال دادے چې په افسانه کښې د هغې د لمنې د فراختیا په مناسبت د پښتنو او پښتنې سیمې کشالې او مسلې په خلاص مټ وړاندې کولې شي.

پیر جهانزېب د پښتونخوا د ملاکنډ د سیمې سره تعلق لرو. بنیادي تعلیم ئې هم په خپل کور کلي کښې حاصل کړے وو. د ژوند د غونډوري رغړولو د پاره ئې وخت په وخت جدا جدا ملازمتونه اختیار کړي وو. ددغه نوکرو په سلسله کښې ئې په بېلا بېلو سیمو کښې ژوند تېرولو طور طریقې، مجبورۍ، کلے کلوبغې او اقدار ئې د نزدې نه لیدلي کتلي وو، ځکه نو د هاغه خلقو مسلې او ستونزې ترې هم پټې پناه نه وې د چا سره یا د چا په خوا کښې چې دۀ د ژوند شپې ورځې تېرولې. او هم دغه وجه ده چې د دوي په افسانو کښې دغه مختلف رنګونه په نظر راځي. ددوي دغه خور وور ژوند د دوي افسانه د خپلې سیمې د حدونو پورې محدوده نه ده ساتلې. هاغه واړه ضروري مسلې چې کومې ددوي د نظره تېرې شوې وې، هغه هسې په اوبو کړښې نه وې بلکې د دوي په رسا ذهن د کاڼي کرښې دې په دغه حقله خدائے بخښلے محمد نواز طائر لیکي:

"ښاغلي پروفېسر صېب ټولې افسانې د قاري توجه ځانته راکاږي. د هرې افسانې ئې بیل بیل کېنوس دے. دا هم علاقائي رنګ لري او هم قومي زمونږ ځینې معاشرتي مسائل په کښې څۀ په یو او څۀ په بل رنګ کښې په ګوته کړې شویدي. د خوږمن او همدرد زړونو خاوندان تل دغسې کوي د کور محلت خبرې وي که د کلي اولس یا د قام قبیلې، د لرې وي که د نزدې خو د یو ښه ترجمان کار ادا کوي چې هغه په شائستګۍ سره په خوږه پسته ژبه او پوره اخلاص او ایمانداري رامخکښې کړي. یو ښه افسانه لیکونکے هم دغه څۀ کوي څه چې پیر صېب کړي دي[۶]"

د پیر صېب د افسانې د اسلوب او رنګ په حقله محترم جمیل یوسفزے لیکي:

"د ساده افسانې کوم روایت چې د اردو نه پښتو ته راغلے دے د پروفېسر صېب افسانې د هغې یو تسلسل دے. د پښتوسر که د راحت زاخېلی نه ښلی او د ارباب رشید احمد او ګل افضل خان غونډې افسانه نګارانو ته جوت حېثیت او

مقام بخښی نو د پیر صېب په افسانه کښې د راحت ادبیت هم شته دے او د ارباب صېب " مرزې والوتې" هم په څۀ نا څۀ رنګ کښې دلته خپل اثر لری. د ګل افضل خان "بادار" دلته په بل تمبون کښې ځلېږی[۷]"

ښاغلے جمیل یوسفزے د پښتو اردو او فارسی ژوره مطالعه لري . یقیناً چې هغوي د دغه خپلو مذکوره پښتو افسانې لیکوالو افسانې د خپل تنقیدي نظره ویستلې دي او د هغې مقایئسته ئې د خدا ے بخښلي پیر صېب سره کړې ده، د دغه محتاطه رایې نه د افسانې په میدان کښې د خدا ے بخښلي جهانزېب د مرتبې اندازه په ښه شان کېد ے شي.

پیر صېب چې په کوم وخت کښې افسانه لیکله، په دغه زمانه کښې د ملاکنډ په سیمه خدا ے بخښلی صاحب شاه صابر، محمد اسلام ارماني ،رحمت شاه سائل، بادشاه شیرین وصال، هاشم صابر ، زرنوش شهاب ، عبدالناصر شېخکوري او څۀ نورو لیکوالو افسانې لیکلې دغه افسانې وخت په وخت په مختلفو ګڼو کښې خورې شوې دې. د بادشاه شیرین وصال مړاوي ګلونه، د رحمت شاه سائل اخري سندره، د صاحب شاه صابر واورې او ګلونه، د بادشاه روم دریاب ګل پاڼه او بیا ورپسې د عبدالناصر شېخکوري د غاړې امېل او د هاشم صابر د مینې منزل چاپ شو. د دغه واړه لیکوالو موضوعاتو او فکرونو ته که بنده ځیر شي نو هر یو خپل رنګ لري. په چا یو رنګ غالب دے او په چا بل. د فکر په لحاظ صاحب شاه صابر او رحمت شاه سائل یو بل ته ډېر ورته دي. د دوي هره موضوع که په غور وکتے شي نو په په هغې کښې د پښتنو کمزوري معشیت ته پام لرنه شوې ده. د دوي محرومی، ناکامی او مجبوری هم دغه غربت دے. دغه رنګ د هاشم صابر، بادشاه شیرین وصال او شېخکوري په افسانو کښې د معاشرې نورې کمزورۍ په ګوته کړې شوې دي. د دغه پورته ذکر شوو افسانه نګارو په مقابله کښې د جهانزېب په افسانه کښې د پښتنو دغه ستونزې هم بیان دي او په کښې د هاغه ماحول خبرې چې په ظاهره، خو ډېرې وړې ښکاري خو په حقیقت کښې د ډېرو لویو پېښو پېش خېمه دي. خدا ے بخښلي لیکوال دغه په ظاهره واړۀ واړۀ شئیان دومره په خوند خوند بیانوي چې لوستونکے د ګوتې نه نیولے دغه ماحول ته د ځان سره دننه بیائي . ژبه ئې خوږه ، پسته او ډېره نرمه پکار راوستې ده. د درنو او ثقیلو الفاظونه ئې ځان ژغورلے دے. ډېر داسې زاړه او لرغوني الفاظ ئې استعمال کړي دي چې نن وخت ئې نوے نسل ادراک نه شي کولې او دا د لیکوال کمال دے چې دغه الفاظ ئې د تل دپاره خوندي کړي دي، دغه رنګ پښتو ته چې کوم بهرني اصطلاحات راغلي او دوي هوبهو قبول کړي دي. لیکوال هغه هم په هاغه رنګ پکار راولي. لکه د ځینې لیکوالو ئې دغه اصطلاحات خوامخوا نه دي ژباړلي چې بیا

پرې لوستونکے یا عام قاري پوهېږي نه. نه خو دے لوستونکے د دغه ماحوله وباسي او نه د چا په د ماغو فشار اچوي. هم دغه سبب دے چې هاغه اهمې مسئلې چې د عام وګړي په نظر کښې د هغې څۀ اهمیت نه وي خدائے بخښلي هغه رامخې ته کړې دي فنکاري ئې ورسره داسې کړې ده چې لوستونکے په ځان پوهېږي نو د هغه په ذهن ئې هاغۀ څۀ نقش کړي وي کوم څه چې دے غواړي.

د پیر جهانزېب چاپې افسانوي ټولګه چې د شلېدلې زنځیرونه په نامه په کال ۲۰۰۸ء کښې تر چاپه رسېدلې وه شپاړس افسانې لري.

"جوارګر" افسانه هاغه څۀ په ګوته کوي چې هغه د هیچا نه هم پټ نه دي. د جوارګر انجام په خاندان او سیمه د هغې اثرات لیکوال صحیح بیان کړي دي. په دې افسانه کښې چې د جوارۍ کوم اصطلاحات دي او د جوارګرو د یو بر سره د خبرو اترو کوم انداز وي، داسې بیان شوې دي چې جواب ئې نشته. معلومېږي داسې چې لیکوال دغه واړه اصطلاحات د چا پوخ جوارګرنه معلوم کړي وي.

"چل" افسانه هم د کلي وال ماحول لفظي انځور دے. د ښځې او خاوند مکالمه، ښځه د خپل خاوند په مال ځومره خفه کېږي او د یو بې تعلیمه خاوند هاغه رویه چې د خپلې ښځې سره ئې ساتي. د هغې هره مشوره کمزوري ګڼي او خپلې غلطې فیصلې پرې ورتپي. د دغه خبرو انجام ښکاره کوي او مونږ ته یوه زبردسته کلیواله معاشره را ښائي دې افسانه کښې د پښتو متلونو ښکلے استعمال هم کړې شوے دے.

"زما په خپل لالي باور دے" د پیر صېب داسې افسانه ده چې په کښې د پېغلو په کور دننه لوبې په سپېځلي انداز کښې وړاندې شوې دي. بل لوري ته د خپلې سیمې هاغه ناوړه مخ په ډېر چل بربنډ وي چې دلته د روزګار د نیشتوالي له سوبه ددې ځاے وګړے په مزدورو پسې بهر ګرځوي. په دې افسانه کښې د پکار راوستے شوي نومونو نه داسې برېښي چې لکه دا د پیر صېب د کلي رښتوني واقعه ده. ځکه ورته واقعاتي افسانه وئیلې شو.

"شلېدلي زنځیرونه" افسانه مونږ ته هاغه زنځیرونه راپه ګوته کوي په کومو زنځیرونو کښې چې زمونږ چاپېریال کلک تړلے دے. په دې افسانه کښې د بنزو سره د میرې مور روایتي رویه، د سړي د دویمې ښځې نه مجبوري او معاشي ناهمواري راښائي چې په چا د مزدور نوم پورې شو نو بس دغه نوم د هغه بنده د نورو ښه خوبیو او حسن وجمال د پټولو د پاره کافي دے.

"رشتل ځمځ" په ځان کښې هاغه واړه اصطلاحات رانغښتي دي کوم چې د ښکار سره تعلق ساتي. دلته ښاغلي لیکوال یوه جمله داسې لیکلې چې :

"ماسختن بانګ مال به وو چې شېرو بې ځمځ ته ورسوو"[۸]

ماسختن بانګ مال به د نورو سيمو لوستونکوته سم نه ښکاري خو دغه اصطلاح د پير صيب په کلي کښې عام ده ځکه نو هغه په کار راويستې ده. په عامه توګه د سحر نه وړاندې د چرګ بانګ مال استعمالېږي.

"ناظر" يوه علامتي افسانه ده. ددې افسانې واړه نومونه علامتونه دي. د ملک په چارواکو او سياست مدارانو زبردستې نيوکې دي - دغه رنګې نوم هم يوه علامتي افسانه ده. خدا ے بخښلي په دې کښې د پښتونخوا د عام وګړي. د زړۀ هاغه تول ته اشارې کړې دي په کومو چې د وړو او غټو سامرجونو د رويو په سبب زړۀ نولېږي.

په دغه اشارو لوستونکے هاغه وخت ورسي کله چې په اخر کښې دغه ټپه ولولي:

کــــه د زلمونـــــه پــــوره نـــــه شـــــوه
ګرانـــه وطنـــه جينکـــۍ بـــه دې ګټينـــه

"زرغون اکا" افسانې د معاشرې هاغه بدکردار ښکاره کړے دے چې د بل کور ورانول ورته د ګس لاس کار ښکاري. دغه قسمه کردارونه له بده مرغه چارچاپېره ډېر دي. ډېر کورونه ئې ويجاړ کړي دي. دغه بدکردار په ګوته کول د ليکوال کامياب کوشش دے.

"سلسبيل د چنارونو سيوري" ځۀ دي د غربت د مړي سپورے دے چې په چا اوشي،. قبر ته بې کوز وي. په دې کښې غربت، مجبورۍ او بنيادي ذمه وارۍ د يو بل سره په جنګ دي. د مجبور او بيمار سره د اولس رويې هم په ډاګه کوي. په "مقدر" او " ډيوټ" کښې که ليکوال د ځينو تورمخو نور مخونه مخامخ کوي نو په "نکريزې که" کښې په ملک د ترهګرۍ د خوله لګولي هاغه بلا نه پرده پورته کوي چې د بلهاخلقو د ارمانونو قاتله ده.

"په مرغۍ والوته" افسانه کښې ماده پرستي راوړاندې کړې شوې ده چې ماده پرستي ځۀ رنګه د مينې خون کوي.

د خدا ے بخښلي پير جهانزېب بعضې افسانې که کله کله ځۀ فني سقم ولري هم خو د هغوي خوږه پسته يوسفزۍ لهجه، کليوال ساده ټکي او د هغوي لوړ مقصد دغه هر ځۀ پناه کوي. او کتونکے بغېر د شاباسي نه بلې رايې ته نه پرېږدي. د خدا ے بخښلي ليکوال د افسانو يوه بله ناچاپه ټولګه که تر چاپه ورسولې شي نو په پښتو افسانوي ادب کښې به د هغۀ د ځانګړي حېثيت ثبوت شي.

# حوالې او شرحې


۱ - اعظم ، محمد اعظم، پښتو افسانه عظیم پبلشنګ هاؤس پېښور، ص- ۹۰

J.A. Cud don. The Penguin Dictionary of Literary Theory. Penguin Books, London, 1994, P-884

Abrams, M.H, A Glossary of Literary Terms, Hong Kong, 1987, PP.176, 177

سحر یوسفزے، ادب څۀ دے. دویم وار، پروګریسو انټرپرئز منګوره، سوات، ۱۹۸۰، ص-۱۶۹.

۲- J.A Cud don, P-865.

۳۔اسیر منگل، پشتو افسانے کے سو سال، بار دوم، دسمبر ۲۰۱۷، ص-۱۹

۴: اسیر منګل، ص ۴۱

۵: طائر، محمد نواز، دا قیصې دا افسانې، تانه ادبي ټولنه ملاکنډ، ۲۰۱۵ء، ص ۷

۶: طائر، محمد نواز، دیباچه شلېدلي زنځیرونه، ۲۰۰۸ء، ص

۷: جمیل یوسفزے، د افسانې پیر سریزه شلیدلي رنځیرونه، ۲۰۰۸ء، ص ۲۰

۸: پیر جهانزیب، شلیدلي رنځیرونه، ۲۰۰۸ء، ص ۷۱